# د الله پاک د محبت
# عملي اِظهار

**10-Zil Hajj-1446H**

## د لوئي اختر بيان

(2025ء/ 1446ھ)

(For Islamic Brothers)

## د لوئي اختر بيان (2025ء/ 1446ھ)

قرآني بيان

په نوم د

# د الله پاک د محبت عملي اِظهار

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- لوئي اختر د قُربانۍ د جذبې اِظهار دے
- د 10 ذو الحج فضيلت
- د الله پاک محبت څۀ ته وئيلے شي؟
- د اختر د نمونځ کولو طريقه

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

**د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمائيلي دي:** څوک چې په ورځ كښې په ما باندې يو زر [1000] كرته دُرُودِ پاک لولي، هغهٔ به تر هٰغه وخته پورې نهٔ مرِ كيږي، تر څو پورې چې په جنَّت كښې خپل مقام اونه ويني۔ (1)

نبی کی شان میں ہو جس قدر دُرُود پڑھو | مُحِبّو پاؤ گے جنت میں گھر دُرُود پڑھو (2)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې كله اوښان ذبح كول

حضرت عبد الله رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: يو ځل د محبوبِ خُدا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت مبارک كښې 5 يا 6 اوښان د ذبح كولو د پاره وړاندې كړے شو، رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې كله د هغې د حلالولو اِراده وفرمائيله نو هٰغه اوښان د يو بل نه مخكښې كيدل او خپل ځانونه يې په باركاهِ رسالت كښې وړاندې كول چې د هغه د ټولو نه مخكښې د رحمت په ډكو لاسونو باندې قُربانيدل نصيب شي۔ (3)

[1] ...الترغيب فی فضائل الاعمال، باب مختصر من الصلاة علی رسول الله ...الخ، صفحه:14، حديث:19۔

[2] ...نورِ ايمان، صفحه:56۔

[3] ...ابو داؤد، كتاب المناسک، باب فی الهدی اذا ...الخ، صفحه:286، حديث:1765 خلاصةً۔

سُبْحٰنَ الله! څومره څانګړے شان دے--!! دلته چې کله څاروے د قُربانۍ د پاره راوستے شي نو هغه ځان خلاصوي او د تښتیدو کوشش کوي، ډیر ځل خو غټ څاروے ځان خلاص هم کړي او په تښتیدو کښې هم کامیاب شي او نقصان کوي، خو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ځانګړي شان باندې په زرګونو سرونه قُربان--!! یقیناً چې هر چا ته خپل ځان خوږ وي خو دا کمال د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے چې څاروي هم د هغوئي د کرم په لاس باندې قُرباني کیدل د ژوند نه بهتر ګڼي-

ہر اِک کی آرزو ہے پہلے مجھ کو ذَبح فرمائیں | تماشا کر رہے ہیں مرنے والے عیدِ قرباں میں(1)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د عشق والؤ انداز ناشنا وي، دلته د رښتوني عاشقِ رسول، شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه جذبې ته وګورئ! لیکلي یې دي:

اُونٹ بن گیا ہو تا اور عیدِ قرباں میں | کاش! دستِ آقا سے نحر ہو گیا ہوتا
کاش! ایسا ہو جاتا خاک بن کے طیبہ کی | مصطفٰے کے قدموں سے میں لپٹ گیا ہوتا(2)

الله کریم دې مونږ ټولو ته د عشقِ رسول داسې د کمال نعمت راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## لوئي اختر د قُربانۍ د جذبې اِظهار دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! نن يَوْمُ النَّحر (یعني د قُربانۍ ورځ) ده، نن هغه مبارکه ورځ ده په کومه ورځ چې د الله پاک خوږ خلیل حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک د محبت عملي ثبوت ورکړو او د رَبِّ کریم د رضا د پاره یې د خپل زوي په مرۍ چاړه

1... ذوقِ نعت، صفحه:192۔

2... وسائلِ بخشش، صفحه:158، 159 ملتقطًا۔

کيښودله او د عشق او محبت، د تابعدارۍ او اطاعت او د قُربانۍ او د مينې د جذبې يـې لازوال مثال قائم کړو۔

عِیدِ قرباں جذبۂ ایثار کا اِظہار ہے | یہ اطاعت کا خلیل اللہ کی معیار ہے
ہے یہ تسلیم و رضا کی ایک لافانی مثال | جان دینے کے لئے فرزند بھی تیار ہے
باپ کا حُسنِ عَمَل،بیٹے کا ذوقِ اِتباع | اس مثالی داستاں کا مرکزی کردار ہے

## د 10 ذو الـحِج فضيلت

د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: اِنَّ اَعْظَمَ الْاَيَّامِ عِنْدَ اللّٰهِ يَوْمُ النَّحْرِ بے شکه د الله پاک پۀ نزد د ټولو نه د عظمت والا ورځ يَوْمُ النَّحر (يعني د 10 ذُو الـحِج ورځ) ده۔ (1)

حضرت براء بن عازِب رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ صحابئ رسول دے، هغوئي فرمائي: پۀ يَوْمُ النَّحر (يعني د لوئي اختر پۀ وړومبۍ ورځ) سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خطبه ورکړله او اوئې فرمائيل: اِنَّ اَوَّلَ مَا نَبْدَءُ بِهٖ فِيْ يَوْمِنَا هٰذَا اَنْ نُصَلِّيَ يعني پۀ ننۍ ورځ به چې مونږ د ټولو نه وړومبے کوم کار کوو هغه (د اختر) نـمونځ کول دي ثُمَّ نَرْجِعَ فَنَنْحَرَ بيا به مونږ کورونو ته ځو او قُرباني به کوو فَمَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ فَقَدْ اَصَابَ سُنَّتَنَا پس چا چې هم داسې وکړل، هغۀ زمونږ سُنَّت ته اورسيدو۔

## د لوئي اختر د ټولو نه خوښ عمل

د حديثِ پاک پۀ مشهورو کتابونو: تِرمذِي او اِبنِ ماجه کښې د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت عائِشه صِدّيقه، طيبه طاهره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روايت دے، د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: يَوْمُ النَّحْر (د قُربانۍ پۀ ورځ) د اِنسان پۀ اعمالو کښې د الله پاک پۀ نزد د ټولو نه خوښ عمل (د قُربانۍ د ځاروي) وينه توئي کول دي۔ بے شکه د قُربانۍ ځاروے به د قيامت پۀ ورځ د خپلو ښکرو، ويښتو او ښنګرو

1... ابو داؤد، کتاب المناسک، باب فی الهدی اذا...الخ، صفحه:286، حديث:1765 ملتقطًا۔

(سمونو) سره راځي او بے شکه د قُربانۍ وينه په زمکه باندې د پريوتو نه مخکښې د اللّٰه پاک په نزد اوچت مقام ته رَسي- پس د زړۀ په خوشحالۍ سره قُرباني کوئ! (1)

| | |
|---|---|
| نشانی ہے وفا کی اور اِک نعمت ہے قُربانی | خُدا کے دوست ابراہیم کی سُنّت ہے قُربانی |
| مسلمانوں کبھی قُربانی سے پیچھے نہیں ہٹنا | وقارِ دِین ہے، اسلام کی شوکت ہے قُربانی |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## قُرباني د اللّٰه پاک سره د محبت عملي اِظهار دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د حضرت ابراهيم خليل اللّٰه عَلَيْهِ السَّلَام د لا زوال قُربانۍ واقعه ډيره مشهوره ده، اللّٰه پاک فرمائي:

فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْیَ قَالَ یٰبُنَیَّ اِنِّیْۤ اَرٰی فِی الْمَنَامِ اَنِّیْۤ اَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰیؕ قَالَ یٰۤاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ٘ سَتَجِدُنِیْۤ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِیْنَ ﴿۱۰۲﴾ فَلَمَّاۤ اَسْلَمَا وَ تَلَّهٗ لِلْجَبِیْنِ ﴿۱۰۳﴾ وَ نَادَیْنٰهُ اَنْ یّٰۤاِبْرٰهِیْمُ ﴿۱۰۴﴾ۙ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْیَاۚ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِی الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۱۰۵﴾ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْبَلٰٓؤُا الْمُبِیْنُ ﴿۱۰۶﴾

(پارہ:23، سورۂ صافات:100 106)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: بيا چې هغۀ کله هغۀ سره د محنت کولو قابل عُمر ته ورسيدلو نو ابراهيم ووئيل: اے زما ځويه! ما په خوب کښې وليدل چې زۀ تا ذبح کووم. اوس تۀ وګوره ستا څۀ رائے ده؟ ځوئ يې ووئيل: اے زما پلاره! تاسو هُم هغه وکړئ د څۀ چې تاسو ته حُکم درکولے کيږي. اِنْ شَآءَ اللّٰه نزدې ده چې تاسو به ما د صبر کوونکو نه مومئ- نو چې کله هغوئي دواړو (زمونږه حُکم ته) غاړه کيښوده او پلار [خپل] ځوي پړمخې څملولو (د هُغه وخت د حال تپوس مۀ کوئ)- او مونږه هغۀ ته غږ وکړو چې اے ابراهيمه!- بے شکه تا خوب رښتيا کړلو، مونږه نيکي کوونکو ته هُم داسې بدله ورکوو- بے شکه دا ضرور ښکاره ازميښت وو-

1 …ترمذی، کتاب الاضاحی، باب ما جاء فی فضل الاضحیه، صفحه:383، حديث:1493۔

د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د دې بے مثله قُربانۍ نه مونږ ته د زدکړې د پاره ډېر څۀ ميلاؤيږي، مثلاً ❀ پۀ دې کښې د تابعدارۍ او فرمانبردارۍ درس دے ❀ پۀ دې کښې د اِيثار او د قُربانۍ سبق دے ❀ پۀ دې کښې د مور پلار د تابعدارۍ درس دے ❀ پۀ دې کښې د رَبِّ کريم د رضا د پاره خپل هر څۀ د قُربانۍ د پاره د پيش کولو دَرس دے ❀ د دې نه علاوه نور هم ډېر سبقونه دي کوم چې مونږ ته د دې قُربانۍ نه د زدکړې د پاره ميلاؤيږي خو نن چې پۀ کومه خبره باندې مونږه د پوهه کولو کوشش کوو، هغه دا ده چې اخر رَبِّ کائنات حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته د زوي د قُربانولو حکم ولې وکړو؟ پۀ دې کښې څۀ راز دے؟ څۀ حکمت پکښې پټ دے؟ وګورئ! تر قيامته پورې سُنَّتِ ابراهيمي ژوندے ساتل وو، دې د پاره به حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام هُم يو ذبح کړے وو، بيا هم کافي وو، د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام سره پۀ زرګونو څاروي وو، د هُغه ټولو د قُربانولو حکم به يـې کړے وو، بيا هم دا يوه لويه قُرباني وه خو الله پاک د زوي د قُرباني کولو حُکم ولې وکړو، اخر پۀ دې کښې څۀ راز دے؟

مفسرينِ کرامو د دې حکمت بيان کړے دے چې پۀ اصل کښې خبره دا ده چې الله پاک پۀ بوډا والي کښې حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته زوي عطا کړو، بيا د مور پلار د اولاد سره فطري طور محبت وي، پۀ دې کښې څه باک هم نشته بلکې دا محبت پکار دے، پۀ دِين کښې د دې ترغيب ورکړے شوے دے خو د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام خو څۀ کمه مرتبه نۀ وه، د هغوئي د خَليلُ الله اوچته مرتبه نصيب وه ځکه غَارَعَلَيْهِ سُبْحَانُهٗ فَاخْتَبَرَ نو الله کريم غيرت وفرمائيلو او د هغوئي امتحان يـې واخستو-[1]

چې کله دا امتحان وشو نو حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د خپل يَوَزري زوي پۀ مرۍ باندې چاړۀ کيښودله او عملي طور يـې دا اِظهار وکړو چې اے کريم مالِکه! زۀ د زوي سره

[1]...تفسيرِ جيلانی، پاره:23، الصّٰفّٰت، زيرِ آيت:102، جلد:5، صفحه:217 خلاصةً۔

محبت کووم خو د ځان د پاره نۀ بلکې ستا د رضا د پاره يې کووم، زما پۀ زړۀ کښې صرف او صرف هم ستا محبت دے، باقي چې د چا چا محبت دے، هغه هم ستا د رضا د پاره دے۔

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا دے هٔغه راز د کوم د پاره چې د زوي د قُربانولو حکم وکړے شو، هم دا هٔغه درس دے کوم چې مونږ ته هر کال رايادولے شي۔

عِیدِ قرباں سے مُقدّس نہیں کوئی تقریب | اس طرح بُھولا سبق یاد دِلایا گیا ہے

## اللّٰه پاک غيرت فرمائي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اللّٰه پاک غيرت فرمائي، نن چې مونږ قُرباني کوو نو پۀ دې کښې به هٔغه غيرت هم لازمي ياد ساتو۔ د اللّٰه پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: اِنَّ اللّٰهَ يَغَارُ وَغَيْرَةُ اللّٰهِ اَنْ يَّاْتِيَ الْمُؤْمِنُ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ بے شکه اللّٰه پاک (د خپل شان مطابق) غيرت فرمائي او د اللّٰه پاک غيرت پۀ دې خبره باندې دے چې بنده هٔغه کارونه وکړي کوم چې اللّٰه پاک پۀ هغۀ باندې حرام کړي دي۔ [1]

شيخ عبد الحق مُحَدِّثِ دهلوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د اللّٰه پاک چې د خپلو بندګانو سره کوم محبت دے، د هغې پۀ وجه بندګان د ګناهونو نه منع کوي د پاره د دې چې هغوئي د اللّٰه پاک د بارګاه نه لرې نشي، هم دې خبرې ته د اللّٰه پاک غيرت وئيلے شي۔ [2]

## د اللّٰه پاک د غيرت مطلب

پۀ رِسَالَه قُشَيرِيه کښې دي: د غيرت معنیٰ ده: شِرکت نۀ خوښول او د اللّٰه پاک د غيرت مطلب دا دے چې اللّٰه پاک پۀ خپل حق کښې د چا شرکت نۀ خوښوي۔ [3] حضرت محمد بن حَسَّان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: زۀ د لبنان پۀ غرونو کښې ووم، هلته ما يو نيک اِنسان

[1]... بخاری، کتاب النکاح، باب الغیرۃ، صفحه:1342، حديث:5223۔

[2]... اشعة اللمعات، کتاب النکاح، باب اللعان، الفصل الاول، جلد:4، صفحه:175۔

[3]... اَلرِّسَالَةُ الْقُشَيْرِيَّة، باب الغيرة، صفحه:288۔

وليدو، هغهٔ چې زهٔ وليدم نو رانه وتښتيدو، ما په هغهٔ پسې ورمنډې کړې او چې ورنزدې شوم نو عرض مې وکړو چې ما ته نصيحت وکړئ! اوئې فرمائيل: د الله پاک نه ويرېږه! بے شکه الله پاک غيرتي دے، هغهٔ د خپل بنده په زړهٔ کښې د څان نه علاوه د بل هيچا محبت نهٔ خوښوي- (1)

## حاجت به يې پوره شي

په روايتونو کښې دي: الله پاک خپل يو نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي وليږله، اوئې فرمائيل: زما فلانکے بنده زما نه خپل حاجت غواړي که هغهٔ يو کار وکړي نو د هغهٔ حاجت پوره کيدے شي- نبي عَلَيْهِ السَّلَام عرض وکړو: اے کريم مالِکه! هغه کوم يو کار دے؟ اوئې فرمائيل: د هغهٔ په زړهٔ کښې زما نه علاوه د بل چا محبت پروت دے که هغهٔ خپل زړهٔ د غير د محبت نه خالي کړي نو زهٔ به د هغهٔ حاجت پوره کړم- (2)

| | |
|---|---|
| مرے دِل سے دُنیا کی چاہت مٹا کر | کر اُلفت میں اپنی فنا یااِلٰہی! |
| تُو اپنی وِلایت کی خیرات دیدے | مرے غوث کا واسطہ یااِلٰہی! (3) |

## د الله پاک د غيرت هډو خوښ نهٔ دي چې---

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نن چې کله د قُربانۍ د څاروي په مرئ باندې چاړهٔ کيږدئ نو هُغه وخت د الله پاک غيرت ضرور راياد کړئ ❁ بنده دې د الله پاک وي او په زړهٔ کښې دې محبت د مال ساتي ❁ بنده دې د الله پاک وي او په زړهٔ کښې دې محبت د دُنيا ساتي ❁ بنده دې د الله پاک وي او په زړهٔ کښې دې محبت د عهدې او د منصب ساتي ❁ بنده دې د الله پاک وي او په زړهٔ کښې دې محبت د عزت او شهرت ساتي ❁ بنده دې د الله پاک وي او عبادت دې نورو ته د ښودلو د پاره کوي ❁ بنده دې د الله پاک وي او د

---

1...اَلرِّسَالَةُ الْقُشَيْرِيَّة، باب الغيرة، صفحه:290 ملتقطًا-

2...اَلرِّسَالَةُ الْقُشَيْرِيَّة، باب الغيرة، صفحه:290-

3...وسائلِ بخشش، صفحه:105 ملتقطًا-

غيرو خوشحالي دې غواړي ❁ بنده دې د الله پاک وي او د الله پاک د کور نه د حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃ پهٔ اواز اوريدو دې هم نهٔ حاضريږي ❁ بنده دې د الله پاک وي او د هغهٔ نافرمانۍ ته دې يـې ملا کلکه تړلې وي، د الله پاک غيرت دا هيڅکله هم نهٔ خوښوي۔

څکه د الله پاک پهٔ لاره کښې د څاروي د قُربانولو پهٔ وخت د هٔغه الله پاک غيرت ضرور ياد ساتئ! او پهٔ زړهٔ کښې د محبت نه ډکې جذبې ساتئ او پهٔ رښتوني زړهٔ وايئ!

قُلْ اِنَّ صَلَاتِیْ وَ نُسُكِیْ وَ مَحْیَایَ وَ مَمَاتِیْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۶۲﴾
(پارہ:8، سورۂ انعام:162)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه زما نـمونځ او زما قُربانۍ او زما ژوند او زما مرګ ټول د الله د پاره دي چې د ټولو جهانونو رَبّ دے۔

اے کريم مالِکه! ❁ زما نـمونځونه هم ستا د پاره دي ❁ زما قُرباني هم ستا د پاره ده ❁ زما ژوند هم ستا د پاره دے ❁ زما مرګ هم ستا د پاره دے ❁ اے د کائناتو رَبه! نن چې لکه څنګه ستا پهٔ حکم باندې زهٔ څاروے قُرباني کووم، هم داسې نن نفسِ اَمَّار (يعنې پهٔ ګناهونو باندې راپارونکے نفس) هم قُرباني کووم ❁ اے کريم مالِکه! د دُنيا محبت ❁ د مال محبت ❁ د منصب محبت ❁ د عزت او د شهرت محبت بلکې ❁ هر هٔغه څيز کوم چې ما ستا د لارې نه منع کوي، د هٔغه ټولو محبت هم د نن نه قُرباني کووم، د نن نه پس به زما پهٔ زړهٔ کښې صرف او صرف هم ستا محبت وي۔

یہ اِک جان کیا ہے، اگر ہوں کروڑوں | تیرے نام پر سب کو وارا کروں میں([1])

کاش چې زمونږه د الله پاک پهٔ بارګاه کښې داسې شانداره قُرباني پيش کول نصيب شي۔

## د يو عاشِق نا اشنا قُرباني

حضرت مالِک بن دِينار رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه ډير لوئې ولِيُّ الله دے، هغوئې فرمائي: زهٔ يو ځل د

[1]… سامانِ بخشش، صفحه:152۔

حج د پاره روان ووم، ما په لاره کښې يو ځوان حاجي وليدلو، نه ورسره په لاس کښې سامان وو، نه جامې، نه څۀ مال او دولت، هم پيدل د مکے مکرمې طرف ته روان وو، ما هغۀ ته سلام وکړو، هغۀ جواب راکړو، ما ترينه پوښتنه وکړه: اے ځوانه چرته روان يې؟ هغۀ ووئيل: د الله پاک خوا له- ما ترينه پوښتنه وکړه: د لارې توښه (يعنې د سفر سامان دې) چرته دے؟ اوئې وئيل: د هغۀ (يعنې د الله پاک) په ذِمۀ کرم باندې دے- ما ووئيل: دومره اوږده لاره به بغير د خوراک څښاک نه اونه وهلے شې، آيا ستا سره څۀ انتظام شته؟ اوئې وئيل: آؤ جي! ما د کور نه د راوتلو په وخت 5 حرفونه د لارې د سامان په توګه اخستي وو- هغه 5 حرفونه دا دي: کٓهٰيٰعٓصٓ-

د **کاف** نه مُراد کافِي (يعنې الله پاک زما د پاره کافِي دے)- د **ها** نه مُراد هادِی (يعنې هُم الله پاک لاره ښودونکے دے)، د **يَا** نه مُراد پناه ورکولو والا، د **عَيْن** نه مُراد عالِم (يعنې الله پاک زما د حال نه خبر دے)، د **صَاد** نه مُراد صَادِق (يعنې رښتونے چې هغۀ کومه وعده فرمائيلې ده بالکل حق، رښتونې ده)-

حضرت مالِک بِن دِينار رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: مونږ دواړه په خپلو خپلو لارو باندې روان شو، مکے مکرمې ته ورسيدو، حج مو ادا کړو، دا په مِنیٰ شريف کښې د حاضرۍ ورځې وې، خلقو د الله پاک په حضور کښې قُربانۍ پيش کولې، هٰغه وخت ما هٰغه نا اشنا حاجي وليدلو، د هغۀ په خُله باندې د عربۍ څۀ شعرونه وو (د کومو ترجمه چې څۀ داسې ده:) **(1)**: په الله پاک مې دې قَسم وي! که زما رُوح خبر شي چې هغۀ د کوم ذات سره محبت کوي نو د ښپو په ځائے به په سَر باندې ودريږي **(2)**: خلقو د اختر په ورځ د ګډو، بيزو او د اوښانو قُرباني وکړه او محبوب په دې ورځ زما د ځان قُرباني وکړه، د خلقو حج وشو او زما حج زما د محبوب خوا له تلل دي، خلقو قُربانۍ وکړې او ما د خپل ځان او د خپلې وينې د قُربانۍ تحفه وړاندې کړه-

د شعرونو وئيلو نه پس هُغه د الله پاک سره محبت کوونکے حاجي پهٔ ژړا شو او عرض يـې وکړو: اے الله پاکه! خلقو قُرباني وکړې او ستا قُرب يـې حاصل کړو، زما سره خو هيڅ هم نشته کوم چې ستا پهٔ لاره کښې قُربان کړم- آؤ! دا زما ځان دے، بس زۀ هم دا ستا پهٔ بارګاه کښې پيش کووم، تۀ دا قبول کړې- د دې وئيلو نه پس هُغه حاجي يوه چغه ووهله، پهٔ زمکه باندې راپريوتو او د هغهٔ رُوح د فاني وجود نه پرواز وکړو- حضرت مالِک بن دِينار رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه فرمائي: بيا د دې سره يو غيبي اواز وشو: **دا د الله پاک محبوب دے کوم چې د الله پاک د محبت پهٔ توره قتل شوے-** [1]

جانتا ہے بارگاہِ حق کے آئین و اُصول؟ | دِل کے ٹکڑوں کی یہاں پر نذر ہوتی ہے قبول

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** کاش چې زمونږه هم د الله پاک د محبت پهٔ جذبه کښې، د زړۀ د کومي نه، د ذوق او شوق سره د الله پاک پهٔ لاره کښې قُرباني پيش کول نصيب شي-

## د الله پاک محبت څۀ ته وئيلے شي؟

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** قُرباني د الله پاک د محبت عملي اِظهار دے، د الله پاک محبت څۀ ته وئيلے شي؟ راځئ چې پهٔ دې هم ځان پوهه کړو: د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه والدِ محترم مولانا نقي علي خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه ليکلي دي: د الله پاک اوچت والے، د هغهٔ عظمت، د هغهٔ شوق چې پهٔ زړۀ کښې دومره پيدا شي چې د هغهٔ پهٔ ياد کښې د هر څۀ نه بيزاره او د هغهٔ پهٔ طلب کښې نا قلاره شي، دې حالت ته **د الله پاک محبت** وئيلے شي- [2]
حُضُور داتا ګنج بخش علي هجويري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه فرمائي: د الله پاک محبت يو خاص صِفت دے، کوم چې د فرمانبرداره مؤمِن پهٔ زړۀ کښې ظاهرېږي، د دې پهٔ وجه بنده د محبوبِ

1 ...رَوضُ الرِّيَاحِيۡن، صفحه: 99-
2 ...انوارِ جمالِ مصطفےٰ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ، صفحه:416 بتغير قليل-

حقيقي (يعني د الله پاک) رضا غواړي، د هغهٔ د ديدار خواهش کوي، د هغهٔ د قُرب موندلو پهٔ ارمان کښې ناقلاره وي، د هغهٔ ذِکر کوي او خپل خواهشات پريږدي او د هغهٔ د حکم پهٔ وړاندې سر ټيټوي۔ (1)

## د الله او د رسول محبت فرض دے

حُجَّةُ الاِسلَام حضرت امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: اُمت پهٔ دې خبره باندې متفق دے چې د الله پاک او د هغهٔ د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبت فرض دے۔ (2) پهٔ قُوتُ القُلُوب کښې دي: هر مؤمِن د الله پاک سره محبت کوونکے دے، البته د هر يو محبت د هغهٔ د ايمان د پوخ والي مطابق کم او زيات وي۔ (3)

| | |
|---|---|
| محبّت میں اپنی گما یااِلٰہی | نہ پاؤں میں اپنا پتا یااِلٰہی! |
| رہوں مست و بےخُود میں تیری وِلا میں | پِلا جام ایسا پِلا یااِلٰہی! |
| مرے دِل سے دُنیا کی چاہت مٹا کر | کر اُلفت میں اپنی فنا یااِلٰہی! |
| تُو اپنی وِلایت کی خیرات دیدے | مرے غوث کا واسطہ یااِلٰہی! |
| مِرا ہر عَمَل بس ترے واسطے ہو | کر اِخلاص ایسا عطا یااِلٰہی! (4) |

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مسلمانان د الله پاک سره ډير سخت محبت کوي

پهٔ 2 سيپاره، سورهٔ بقره، آيت: 165 کښې الله پاک فرمائي:

---

1 … کَشۡفُ الۡمَحۡجُوب، صفحه: 449 بتغير قليل۔

2 … احياء علوم الدين، کتاب المحبة و الشوق … الخ، بيان شواهد الشرع في حب الله … الخ، جلد: 4، صفحه: 357۔

3 … قوت القلوب، الفصل الثاني و الثلاثون، ذکر احکام المحبة … الخ، جلد: 2، صفحه: 82۔

4 … وسائلِ بخشش، صفحه: 105 ملتقطًا۔

وَ مِنَ النَّاسِ مَنْ یَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْدَادًا یُّحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ اللّٰهِؕ
(پاره:2، البقره:165)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او بعضې خلق د اللّٰه نه سِوا نور معبودان جوړوي، هغوئي سره د اللّٰه په شان محبت کوي، او ایمان والا د ټولو نه زیات اللّٰه سره محبت کوي-

په دې آیت مبارک کښې د دوه قِسمه محبتونو موازنه شوې ده: (1): د کافِر د خپلو دروغژنو معبودانو سره محبت (2): د مؤمن د خپل رښتوني خُدائے سره محبت- اللّٰه پاک فرمائي:

وَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِؕ

یعني کافران د خپلو دروغژنو معبودانو سره محبت خو کوي خو مؤمِن بنده چې د خپل رښتوني خُدائے سره ځومره شدید محبت کوي، ځومره پوخ او زور محبت کوي، داسې محبت نهٔ کوي-

اخر څهٔ فرق دے؟ د مؤمِن بنده د خپل رَبّ سره دومره پوخ محبت ولې دے؟ ❀ مونږه مسلمانان د اللّٰه پاک عِبادت کوو نو کافران خو هم د خپلو دروغژنو معبودانو عبادت کوي ❀ مونږه مسلمانان د خپل رَبّ د رضا د پاره مال قُربانوو نو کافران خو هم د خپلو دروغژنو معبودانو د پاره مال خرچ کوي ❀ مونږه مسلمانان که د اللّٰه پاک هر حکم منو نو کافران خو هم په خپل باطِل دِین باندې عمل کوي- بیا څهٔ وجه ده؟ دا ولې وفرمائیلے شو چې کافِران د خپلو دروغژنو معبودانو سره دومره پوخ محبت نهٔ کوي لکه څنګه محبت چې مسلمانان د خپل رښتوني خدائے سره کوي؟

مفسرینِ کرامو د دې سوال جواب ورکړے دے او لیکلي یې دي: غیر مسلمه د خپلو دروغژنو معبودانو د پاره هر څهٔ کوي خو چې کله په هغوئي باندې څهٔ مشکل وخت راشي نو د خپلو دروغژنو معبودانو نه مخونه اړوي- په قرآنِ کریم کښې اللّٰه پاک فرمائي:

فَاِذَا رَكِبُوْا فِی الْفُلْكِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ ۚ۬

(پاره:21، سورۃالعنکبوت:65)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بيا چې خلق په کشتۍ کښې سوريږي نو الله يادوي په داسې حال کښې چې هُم د هغهٔ د پاره دِين خالص کوي-

په تفسير صِراطُ الـجنان کښې دي: د جهالت په زمانه کښې به خلقو د سمندري سفر کولو په وخت خپل بُتان د ځان سره وړل، د سفر په وخت چې به کله سيلۍ اُلټا لګيدله او د کشتۍ د ډوبيدو خطره به پيدا کيدله نو هغوئي به خپل بُتان درياب ته غورځول او يَا رَبّ! يَا رَبّ! اوازونه به يې کول-

دا دے د کافِر او د مؤمِن په محبت کښې فرق---!! چې کله مشکل وخت راشي نو کافران خپل دروغژن معبودان پريږدي خو د مؤمِن بنده دا شان دے چې په هغهٔ باندې که هر قِسمه وخت راشي نو د هغهٔ په زړهٔ کښې د الله پاک محبت نهٔ کميږي ❀ مؤمِن ته که خوشحالي ميلاوْ شي نو بيا هم الله پاک يادوي ❀ که غم ورپيښ شي نو بيا هم الله پاک ته اواز کوي ❀ هغهٔ ته چې کله رزق ميلاوْ شي نو د الله پاک شُکر ادا کوي ❀ که تنګدستي پرې راشي نو د هغهٔ په رضا باندې راضي اوسي ❀ په يو وخت ❀ په يو ساعت ❀ په يو حال کښې هم مؤمِن بنده د خپل رَبِّ کريم دروازه نهٔ پريږدي-

اوس دې مونږه په خپل حال باندې لږ غور وکړو- نن د اختر ورځ ده، د قُربانۍ کولو ورځ ده، د الله پاک د محبت د عملي اِظهار ورځ ده، خو ❀ افسوس چې د اختر په ورځ باندې خاروي خو قُربانيږي خو سستي او غفلت نهٔ قُربانيږي ❀ ډير افسوس چې د الله پاک د محبت د عملي اِظهار په ورځ هم نـمونځونه قضا کيږي بلکې ❀ بعضې خلق خو هم قُرباني بهانه کوي، مثلاً قصاب ناوخته راغلو، د هغهٔ په انتظار رانه جَمعه قضا شوه، جامې مې په وينو باندې ګنده شوې وې، په قُربانۍ کولو کښې وخت تير شو او نـمونځ قضا شو---!! اَلامَان وَالحفيظ! لکه هُغه خيز کوم چې د الله پاک په حُضُور کښې د ټيټيدو دَرس ورکوي (يعني

قُرباني) مونږه هم هغه بهانه کوو او د الله پاک پۀ حُضُور کښې د حاضرۍ نه محرومه پاتې کیږو- ❁ دغه شان نن د خوشحالۍ ورځ ده، څومره داسې خلق دي کوم چې به د اختر ورځ پۀ فضولیاتو کښې تیروي بلکې ❁ د ګناهونو نه ډک کارونه کولے شي ❁ سندرې اوریدلے کیږي ❁ د اختر پۀ ورځ خصوصي فلمونه کتلے کیږي ❁ د ګناهونو نه ډک محفلونه راجوړیږي ❁ د پک نِک پۀ نوم باندې ❁ د سیلګیرۍ پۀ نوم باندې ❁ پۀ پارکونو کښې ❁ د تفریح پۀ ځایونو کښې ❁ د دریابونو پۀ غاړه ❁ د سمندر پۀ غاړه باندې د بد نظرۍ ذریعې وي ❁ د ګناهونو نه ډک کارونه وي او ❁ بعضې خلق خو مَعَاذَ الله! شراب هم څښي (د الله پاک پناه!)

آیا دا د اختر کولو انداز دے---!! مونږه واوریدل چې مؤمِن بنده پۀ هر حال کښې د الله پاک سره محبت کوي، که خوشحالي کوي نو هم د الله پاک د رضا والا پۀ کارونو یې کوي، مؤمِن بنده داسې نۀ دے چې سخته پرې راشي نو رَبّ ته اواز کوي، که خوشحالي راشي نو سرکشه شي، دا خو د کافِرانو حال دے- مؤمِن بنده هم پۀ هر حال کښې الله پاک یادوي، هم د هغۀ سره محبت کوي، نن د الله پاک سره د محبت د عملي اِظهار ورځ ده، ځکه پوخ نیت وکړئ چې نن به قُرباني کوو، ضرور به یې کوو او ورسره ورسره به د الله پاک د محبت عملي اِظهار کوو او نن به هم او بیا د پاره به هم بلکې تول ژوند به د ګناهونو نه بچ اوسو، د الله پاک پۀ محبت باندې به د مستیدو او د هغۀ د رضا طلب کار به جوړیږو، همیشه به هم د هغۀ د رضا والا کارونه کوو- اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم!

| | |
|---|---|
| نہ دے ایسی خوشیاں جو غفلت میں ڈالیں | خدایا! غمِ مصطفےٰ مانگتا ہوں |
| گُناہوں کے امراض نے مجھ کو مارا | اِلٰہی! میں ان سے شفا مانگتا ہوں( 1 ) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]... وسائلِ فردوس، صفحه: 2 ملتقطًا-

## د قُربانۍ څرمنې دعوتِ اِسلامي له ورکړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! ستاسو خپل دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي دا وخت د اتياؤ [80] نه پهٔ زياتو شعبو کښې ديني فريضې ترسره کوي- اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❁ د کنزُ الـمدارس بورډ پهٔ نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعليمي بورډ دے ❁ تقريباً د 16500 نه زيات جامعات او مدارسُ الـمدينه د هلکانو او جينکو (Boys & Girls) ماشومانو د پاره قائم دي، پهٔ کومو کښې چې د حفظ او ناظرې، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات (Specialization)، فرض علوم کورسز کولے شي ❁ د جامعات او مدارسُ الـمدينه (بوائز اينډ ګرلز) د طالبِ علمانو شميره څه کم يا زياته 5 لاکهه 30 زره ده ❁ د زيات عمر اِسلامي ورونو او خوئيندو ته د قرآنِ کريم تعليم ورکولو د پاره اوسه پورې تقريباً د 74 زره 887 زره نه زيات مدارس الـمدينه بالغان او بالغات جوړ کړے شوي دي پهٔ کومو کښې چې د لوستونکو شميره تقريباً د 4 لاکهه 26 زره نه زياته ده ❁ د فيضان آن لائن اکيډمۍ پهٔ ذريعه تقريباً 24 زره طالبِ علمان ديني تعليم حاصلوي ❁ اوسه پورې تقريباً 21 دار الافتاء اهلسنت جوړ کړے شوي دي پهٔ کومو کښې چې د شرعي رهنمايو شميره د مياشتې اوسطاً 20 زره ده ❁ د الـمدينةُ العلميه (Islamic Research Center) پهٔ ذريعه پهٔ ديني لټريچر باندې تحقيقي کار کيږي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دې شعبے لاندې اوسه پورې پهٔ 1784 کتابونو او رسالو باندې کار شوے دے، پهٔ دې شعبه کښې ګڼ شمير مَدَني علمائے کرام فريضې ترسره کوي، د الله پاک پهٔ کرم سره دعوتِ اِسلامي دې مَدَني علمائے کرامو ته باقاعده تنخواګانې ورکوي ❁ د ديني لټريچر چاپ کولو د پاره دعوتِ اِسلامي خپله اشاعتي اداره مکـتبة الـمدينه جوړه کړې ده، چرته چې پهٔ بهترين او ښکلي انداز کښې کتابونه چاپ کولے شي، د تقسيمِ رسائل (يعنې د مختلفو کتابونو او رسالو مفت تقسيم کولو) سلسله هم وي ❁ پهٔ ټوله دُنيا کښې د ديني کارونو کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي پوره

تنظيمي سيټ اپ دے، د ذيلي حلقے نه واخله تر مرکزي مجلسِ شُورٰی پورې يو نظام جوړ دے، ښار په ښار، کلي په کلي ذمه داران موجود دي ❁ د عاشقانِ رسول تربيت کولے شي او دوئي د ديني کارونو د پاره ملک او بهر ملکونو ته ليږلے شي، دوئي ته باقاعده تنخواګانې ورکولے شي او هغوئي فَارِغُ البَال (يعنې د ګټې نه بے پروا) کيدو سره د دِين خدمت کوي ❁ د ميډيا مختلف پليټ فارمز، مثلاً ❁ پرنټ ميډيا (يعنې ماهنامه فيضانِ مدينه کومه چې دا وخت په 7 مختلفو ژبو کښې چاپ کيدونکې کثير الاشاعت مياشتنی [يعنې ماهنامه] ده په ذريعه) ❁ سوشل ميډيا (مثلاً، يوټيوب (***YouTube***)، فيس بک (***Facebook***)، انسټاګرام(***Instagram***)وغيره باندې موجود تقريباً 100 اکاؤنټ، په کومو باندې چې)تقريباً 50 ملين(***Million***)يعنې 5 کروړه فالورز (***Followers***)دي او د ويوز شميره د بلينز (***Billions***)يعنې د 100 کروړه نه هم زياتو پورې رسيدلې ده- ❁ د دې نه علاوه د مَدَني چينل اُردو، انګلش، بنګله ژبو کښې، کِډز (***Kids***) مَدَني چينل، د مشرانو د پاره مَدَني چينل او د عربی د ويب چينل په ذريعه د دِين اِسلام خدمت کولے شي ❁ د آئي ټي شعبے د طرف نه اوسه پورې **32 موبائل ايپلي کيشن** او **40 اِسلامک ويب سائټس** جوړ کړے شوي دي ❁ په ټوله دُنيا کښې د مسلمانانو د خير خواهی د پاره د ايف جي آر ايف (***Faizan Global Relief foundation***) شعبه جوړه ده، د کومې د لاندې چې ❁ **د 34 لاکهه 16 زره 673 نه زياتې** وَنې نالې کړے شوې دي ❁ تقريباً د **76 لاکهه 82 زره 958** ګسانو امداد کولے شي ❁ د **5 زره 566** نه زيات کوروونه جوړ کړے شوي دي ❁ **75 زره 721** د وينې ډراپونه عطيه کړے شوي دي ❁ هيلتهـ کئير سنټر ته اوسه پورې د **61 زره 667** مريضان راغلي دي-

**تاسو ته خواست دے چې د قُرباني ځرمنې دعوتِ اِسلامي له ورکړئ! که قُرباني نهٔ کوئ نو څهٔ نا څهٔ رقم د صدقې په توګه د دعوتِ اِسلامي د دِيني کارونو د پاره ورکوئ! ستاسو چنده په**

هر قِسمه جائز، ديني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني او د خير ښيګړې په کارونو کښې لګيدے شي۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

د اختر د نـمونځ طريقه واورئ!

## د اختر د نـمونځ طريقه (حنفي)

وړومبے داسې نيت وکړئ: ❀ زۀ د لوئي اختر د دوه رکعته نـمونځ نيت کووم، سَره د شپږو زياتي تـکبيرونو، خاص خُدائے لره، په دې حاضر اِمام پسې ❀ بيا تر غوږونو پورې لاسونه اوچت کړئ او اَللهُ اَکْبَر ووايئ او د معمول مطابق يـې د نوم نه ښکته وتړئ او ثنا ولولئ ❀ بيا تر غوږونو پورې لاسونه پورته کړئ او اَللهُ اَکْبَر ووايئ او لاندې يـې زوړند کړئ ❀ بيا لاسونه تر غوږونو پورې اوچت کړئ او اَللهُ اَکْبَر ووايئ او ښکته يـې زوړند کړئ ❀ بيا تر غوږونو پورې لاسونه پورته کړئ او اَللهُ اَکْبَر ووايئ او د نوم نه ښکته يـې وتړئ يعنې د وړومبي تـکبير نه پس لاسونه وتړئ د هغې نه پس په دويم او دريم تـکبير کښې يـې زوړند کړئ او په څلورم تـکبير کښې يـې وتړئ، دا داسې ياد ساتئ چې چرته په قيام کښې د تـکبير نه پس څۀ لوستل دي هلته لاسونه تړل دي او چې چرته نۀ دي لوستل هلته زوړندول دي ❀ بيا دې امام تَعَوُّذ او تَسمِيَه پټ ووائي او اَلحَمدُ شريف او سورت دې په جهر (يعنې په تيز اواز) سره ووائي ❀ بيا دې رکوع وکړي ❀ په دويم رکعت کښې وړومبے اَلْحَمْدُ شريف او سورت دې په جهر سره ولولي ❀ بيا دې درې کرته لاسونه تر غوږونو پورې پورته کړي او اَللهُ اَکْبَر دې ووائي او لاسونه دې نۀ تړي او په څلورم ځل دې بغير د لاسونو پورته کولو نه اَللهُ اَکْبَر ووائي او رکوع ته دې ښکته شي او د قاعدې مطابق دې نـمونځ مکمل کړي۔ د هرو دوو تـکبيرونو ترمينځه د درې کرته سُبْحٰنَ الله وئيلو په مقدار چپ پاتې کيدل دي۔ [1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]...بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:781، حصه:4 ماخوذاً۔